**بسم الله الرحمن الرحيم**

## د نصرت په اړه د الله سبحانه وتعالی زیري او ابتلاوې!

## (لومړۍ برخه)

## (ژباړه)

د هغو وحشتناکو او ډارونکو پېښو تکرار چې د مسلمانانو احساسات يې په نښه کړي، له شک پرته چې موخه يې، د هغوی له منځه وړل، د تصميم نيوونې نشت او په منځ کې يې د نهيلۍ خپرېدل دي. د بېلګې په توګه، ليدل کېږي چې د مسلمانانو چارواکي د بريټانيا د ملکې د مړينې په مراسمو کې ګډون کوي، دا په داسې حال کې ده چې دغه ښکېلاکګر هېواد مسلمانان ځوروي او په حق کې يې تر ټولو ناوړه جنايتونه ترسره کوي. بل دا چې په سوډان کې د امريکا سفير د سولې د کوترې رول لوبوي او د کورنيو، مشرانو او کليو ليدنه کوي، بېوزلو ته زړه ورکوي، غونډې جوړوي او په کنفرانسونو کې ښکاره کېږي... په دغو کړنو سره داسې ښيي چې ګنې د دغو خاورو اوسنی حاکم دی، خو ټول پوهېږي چې په نړۍ او په ځانګړي ډول په اسلامي خاورو کې د جنايتونو او فتنو رامنځته کولو عامل امريکا ده.

په دې کې شک نشته چې دغو استعمارګرو دولتونو زموږ په خاورو کې د مزدورو حکامو په مرستې بحرانونه رامنځته کړي، دسيسې جوړوي او خپله سياسي او امنيتي ولکه يې په داسې بڼه پياوړې کړې چې وضعيت ناوړه او ژوند سختېږي او دا د دې لامل کېږي چې د ځينو مسلمانانو په زړونو کې نهيلي پيدا شي او يو ځوک وايي: ايا موږ ته به نصرت راشي؟!

نصرت الهي ډالۍ ده چې الله سبحانه وتعالی هغه يوازې خپلو مخلصو بندګانو ته ورکوي. الله سبحانه وتعالی ځينې وخت ژر او ځينې وخت بيا هغه حکمت ته په کتو چې هغه سبحانه وتعالی پرې خبر دی، نصرت ځنډوي. د هغه په واسطه مومنان ابتلاء کوي او په ځنډ سره يې مخلص او ثابت قدمه بندګان له ماتې خوړلو او تسليم شوو څخه بېلوي. الهي سنت د انسان نفس داسې معرفي کوي چې خير په بيړه غواړي او د ځورېدو پر وړاندې صبر او استقاومت نه کوي. الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**﴿وَ لَوْ يُعَجِّلُ اللَّهُ لِلنَّاسِ الشَّرَّ إستِعجَالَهُم بِالْخَيْرِ لَقُضِىَ إِلَيْهِمْ أَجَلُهُمْ﴾** [يونس: 11]

***ژباړه:*** *لکه څنګه چې خلک د ښېګڼو او خير په تر لاسه کولو کې بيړه کوي، که الله سبحانه وتعالی يې په جزا ورکولو کې بيړه کولی، ډېر ژر به يې عمر پای ته رسېده (او ټول به له منځه وړل کېدل)*

ډېری وختونه تر سختيو وروسته اساني او تر غمونو وروسته ارامي وي. ځينې څيزونه دي چې انسان يې ځان ته خير بولي، په داسې حال کې چې شر پکې نغښتی وي او ډېری داسې څيزونه هم شته چې انسان يې شر بولي، په داسې حال کې چې په هغه کې يې خير وي. الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**﴿وَ عَسَىٰ أَن تَكرَهُوا شَيْءًا وَ هُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ وَ عَسَىٰ أَن تُحِبُّوا شَيْءًا وَ هُوَ شَرٌّ لَّكُمْ وَ اللَّهُ يَعْلَمُ وَ أَنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ﴾** [بقره: 216]

***ژباړه:** ډېر شیان به مو نه خوښېږي، په داسې حال کې چې په هغه کې مو خیر دی. یا دا چې کوم څه مو خوښېږي، په داسې حال کې چې په هغه کې مو شر دی او الله سبحانه وتعالی پوهېږي او تاسو نه پوهېږئ.*

اسلامي امت د تاریخ په اوږدو کې له سترو غمیزو او مصبتونو سره مخ شوی او دغه سلسله همداسې تکرارېږي. په ټېر وخت کې د تاتاریانو او صلیبیانو له جګړو سره مخ شو، الله سبحانه وتعالی د دغه امت لپاره اخلاصمن وګړي چمتو کړل چې صفونه یې یوځای کړل او پر دښمن بریالي شول. نن ورځ هم دغه ګډوډۍ د خلافت تر پاشل کېدو وروسته تکرارېږي. استعمار زموږ خاورو ته رادننه شو، فلسطین او اقصی مسجد یې اشغال کړل، خلک یې په بې رحمۍ سره ووژل او له مسجد څخه یې وایستل. په بوسنیا کې پر ښځو تېری وشو، د چیچن خاوره لوټ شوه او غوایي پرست هندوانو پر مسلمانانو بریدونه وکړل. همدارنګه په روهینګیا کې بت پرستو له مسلمانانو سره ناوړه چلند وکړ او مسیحیانو په منځنۍ افریقا کې مسلمانان په ډېره وحشتناکه بڼه ووژل. د افغانستان، عراق په اشغال او د جنوبي سوډان په بېلتون... هو، استعمارګرو دغه ټول جنایتونه د ځینو مسلمانو حکامو، درباري علماوو او د هغوی د ملاتړو په وحشیانه همکارۍ او توافق ترسره کړل.

دغه وحشتناکې پېښې او مصیبتونه د امت په ځینو بچیانو کې هم خواره شول او هغوی متزلزل او متې یې ورکمزورې کړې. پر دې سربېره، استعمارګرو د مسلمانانو پر وړاندې فکري او ثقافتي جګړې پلې کولې، هغه تکتیکي جګړې چې مسلمانان یې په شرعي دلایلو کې په شک کې واچول او هغوی یې د الله سبحانه وتعالی له ډېرو احکامو څخه منحرف کړل. ځینې اسلامي مفاهیم یې ګډوډ کړل، وراسته شوي کفري افکار یې خواره کړل، هغه کسان چې د اسلام د پلي کېدو غوښتونکي وو، په دولت او ټولنه کې یې دننه فضا پرې تنګه کړه، هغوی یې تعقیب کړل او د هغوی ځان، مال او کورنۍ یې وځپلې. دې جګړې د ځینو کسانو تصمیم او اراده کمزوري کړل، په هغوی کې ډېری کسان بدل شول او په غربي مفکورو کې ډوب شول. ځینو کسانو سلامتۍ او دنیا ته په لېوالتیا سره لومړیتوب ورکړ او چوپتیا پرې خوره شوه. ځینې نور بیا نهیلي شول او امت ته ورکړل شوې نږدې ژمنه او فتحه یې لېرې او وروسته وګڼله. د امت یو شمېر نور بچیان بیا په مېړانه کې پاتې شول چې تر نن پورې په یوازې توګه مبارزه او له حق څخه دفاع کوي. ثبات او استقاومت یې دنګو غرونو ته پاتېږي او پېښې یې ثبات نه شي کمزورۍ کولی. فتنې د هغوی د بدلون وړتیا نه لري او همدارنګه ټکرونه او فشارونه یې اراده له منځه نه شي وړلی. د هغوی په اړه د رسول الله صلی الله علیه وسلم دغه قول صدق کوي:

**«لَا تَزَالُ طَائِفَةٌ مِنْ أُمَّتِي ظَاهِرِينَ عَلَى الْحَقِّ لَا يَضُرُّهُمْ مَنْ خَذَلَهُمْ حَتَّى يَأْتِيَ أَمْرُ اللَّهِ وَهُمْ كَذَلِكَ...»** (متفق علیه)

***ژباړه:** تل او په دوامداره توګه زما په امت کې یوه ډله شته چې د حق ملاتړې او پیروې ده او کوم کسان چې د دوی ذلت غواړي، دوی ته زیان نه شي رسولی او په همدې طریقه به شتون ولري، تر هغه چې د الله سبحانه وتعالی فرمان (د قیامت ورځ) راورسېږي.*

هو، وروسته له دې چې امت رهبر، ځواک او دولت له لاسه ورکړل او وروسته تر دې چې امت بې خلیفه، بې رهبره او بې امامه شو، ستونزې نورې هم پراخې شوې. رسول الله صلی الله علیه وسلم څه ښه فرمایلي:

**«انما الاِمَام جُنة يُقاتَل مِن وَرائِهِ وَ يُتَّقَى بِه»**

***ژباړه:*** *امام هغه ډال دی چې تر شاه یې جګړه کیږي او هغه ته پنا وړل کیږي.*

د مسلمانانو اوسني حکام هیڅ یو امام او رهبر نه دي او د امت غم ورسره نشته. همدارنګه له مصیبت او بدبختی پرته بل څه نه دي. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

**«انها ستأتی علی الناس سنون خداعة؛ یصدق فیها الکاذب و یکذب فیها الصادق، و یؤتمن فیها الخائن و یخون فیها الأمین، و ینطق فیها الرویبضة. قیل: و ما الرویبضة؟ قال: السفیه یتکلم فی أمر العامة...»**

الإمام أحمد مسنده.

***ژباړه:*** *هغه کلونه به راشي (چې خدعه پکې کیږي)، درواغجن به تصدیق او صادق به درواغجن کیږي، خاین به امانت ساتونکی او امین به خاین ګڼل کیږي. رویبضه به ویناوې کوي. وویل شول: رویبضه څوک ته ویل کیږي؟ ویې فرمایل: بې عقلان او ناپوهان چې د خلکو په چارو کې نظر ورکوي.*

هو، اسلامي امت پوځونه رهبري کول او بیرغونه یې رپول، کلاوې یې نړولې، داسې کسان یې روزل چې پیاوړي اتلان یې په ګونډو کول، د نړۍ ګوټ ګوټ ته یې خیر او نیکي خوروله، کمزورو مرسته ترې غوښته او اسلامي امت مرسته ورسره کوله. پنا غوښتونکو پنا ترې غوښته او اسلامي امت هغوی ته پنا ورکوله. هو، اسلامي امت.

روایت شوی چې کله عمر رضي الله عنه شام ته ولاړ او پوځیان ورسره وو، چې نوموړي له لنګ، موزو او له لونګۍ پرته بل څه نه درلودل، په داسې حال کې چې اوښ یې نیولی و او په اوبو کې یې پورې ایسته، ورته ویې ویل: اې امیر المؤمنینه! د شام مشران او پوځونه دې په خدمت کې دي او ته په دغه حالت کې یې! عمر رضي الله عنه وفرمایل: موږ هغه قوم یو چې الله سبحانه وتعالی د اسلام په وسیله عزت راکړی او هیڅکله عزت په بل څه کې نه لټوو... (المستدرک او نور)

حتما به موږ په نږدې راتلونکي کې د الله سبحانه وتعالی په مرسته او غوښتنه دغه ستر واقعیت ته ورسیږو. د الله سبحانه وتعالی او رسول صلی الله علیه وسلم زیري ته خوشحاله یو، نو له همدې امله باید په دې لاره کې په ټول وس سره فعالیت وکړو، نهیلي او سرګردانی لیرې کړو، پر زیریو ځانونه خبر کړو او پر ابتلاءوو صبر او استقامت وکړو. په دې کې شک نشته چې نصرت په ټاکلي وخت چې الله سبحانه وتعالی پرې پوهیږي، راتلونکی دی او زموږ مکلفیت د اسلام د حاکمیت اقامې لپاره یوازې فعالیت کول دي. که داسې وګڼو چې هر یو پر دې ژمني پوهیږي، ایا د اسلام غوښتنې او مکلفیتونه یې عملي کړي، که یې د دنیا لور ته یې مخه کړې، حوادث او پیښې یې د ځان لپاره سختې کړې چې په پایله کې یې د اسلام لپاره د نصرت له فعالیت او د نبوت پر تګلاره د راشده خلافت د تاسیس لپاره له دعوت څخه لاس اخیستی دی؟!

ادامه لري...

**الرایه: ۴۱۶ګڼه**

**لیکوال: استاد محمد جامعه « أبو أیمن»**

**ژباړه: بهیر «ویاړ»**